# “The pioneer of symbol in Pashto novel”

# پښتو ناول کښې د علامت سرخېل

Inam Ullah*

**ABSTRACT:**

The standard of symbols in Pashto fiction especially in novel is ever remained a question. Dr Sher Zaman taizi is rightly called to be the pioneer of symbolism in Pashto novel. All his novels i.e. GUL KHAN, AMAANT, RAHMAN KORONA, and GHUNDAI have the intentional use of symbols. It is important to point out the representative symbols in his novels. This article covers some important questions regarding symbols and the reasons behind acclaiming Dr. Sher Zaman Taizi as the pioneer of symbolic novelist.

**Key words**: Symbolism, Pashto fiction, Pashto Novel

هسې خو د پښتو ناول لمن ډېره فراخه ده او تقریباً په هره موضوع پکښې ناولونو لیکلې شوي دي خو نړیوال ادب کښې چې ناول څومره پرمختګ کړے دے پښتو ناول له هغه مقام ته نه دے رسېدلے. د مثال په توګه په نړیوال ادب کښې علامت نګاري باقاعده د یو تحریک په شکل کښې د ادب په ټولو صنفونو کښې خپل کړے شوے دے خو پښتو ادب کښې ورته هغه شان پاملرنه نه ده شوې او بیا پښتو ناول خو په دې لړ کښې ډېر بد قسمته ښکاري. علامت نګاري د بیان ښکلے او ځانګړے انداز دے چې

په دې جدید دور کښې د پرمخ تللي ادبیاتو ټولې تقاضې په بشپړه توګه نه صرف پوره کوي بلکې خوند او رنګ ئې هم زیاتوي .علامت یا علامت نګاري یوه اصلاح نه ده بلکې د یو تحریک نامه ده د کومې اغاز چې د اتلسمې صدۍ عیسوي په اخري نیمائې کښې په فرانس کښې شوے دے. د فرانسسي ژبې لیکوال "میلارمے" هغه اولنے لیکوال دے چې علامت له ئې نه صرف د یو تحریک شکل ورکړے بلکې په خپله ئې د عقیدې په توګه قبول کړے. د

* Ph.D Scholar in Pashto Academy, University of Peshawar

فرانس په خاوره شروع شوے دا تحریک د وخت تېرېدو سره د نړۍ نورو ژبو ته هم ورسېد او باقاعده د یونړیوال تحریک شکل ئې اختیار کړو.

علامت د عربۍ ژبې لفظ دے چې ګڼې معنې لري.لکه نشان، پته، سراغ، مهر وغېره.

په فیروز اللغات کښې کوم چې د اردو ژبې مستند لغت دے د علامت معنا داسې لیکلې شوې ده...

"علامت "(۱)نشان-مارک(۲)پتا(۳)سراغ،کھوج(۴)اشارہ-کنایہ(۵) چاپ—مہر—لیبل(۶)آثار(بیماری کی)(۷)جمع—تفریق—ضرب، تقسیم،کا نشان(۸)امیر کانشان(۹)فاصلی کانشان،میل کا پتھر-۱

پښتو ته علامت د اردو په لار راغلے دے. د پښتو ژبې تر ټولو مستند لغت" پښتو اکېډیمي لغت" کښې د علامت معنا داسې لیکلې شوې ده.

"علامت". نخښه. نښانې. نښان. علامه (پښتو کښې عموماً (علامه)ویئلې شي)"۲

دغه شان د پښتو په بل لغت "ظفراللغات" کښې ئې معنا "نشانه او نشاني" درج ده.

اصل کښې "علامت" په خپله یو تخلیق شوے لفظ نه دے بلکې د انګرېزۍ ژبې د یو لفظ "Symbol" ترجمه ده .او د انګریزۍ لفظ"Symbol" هم د انګریزۍ ژبې خپل لفظ نه دے بلکې د یوناني ژبې د دوه لفظونو مرکب دے. نو مونږ به د علامت په اصل هله پوهه شو چې جرړو ته ئې ځان ورسوؤ. په دې حقله انسائکلو پېډیا آف برتانیکا زمونږ رهنمائي په صحي ډول کوي .په انسائکلو پېډیا آف برتانیکا کښې د علامت معنا او مفهوم داسې بیان شوے دے...

> "The word symbol is come from the Greek word "symbolon" which means contract, token, insignia and a mean of identification" 3

ترجمه:-

> "سمبل "لفظ د یوناني ژبې د "سمبولن" نه اخذ شوے دے چې معنا ئې ده، اقرارنامه، یادګار، یا نشان وغېره او د یو څیز د پېژندګلو معنا هم ورکوي"

اوس بـه راشـو د پوهـانو طرف تـه چې ادبـي پوهـان د علامـت پـه حقلـه څـه وائي؟۔ د اردو ژبې ليکوال ډاکټر وزير آغا د علامت مفهوم داسې بيـانوي ...

"علامت سے مراد یہ ہے کہ جب کسی شے کا ذکر آئے تو یہ شے اس تصور کی طرف ذھن کو منتقل کرے جو اس کا بنیادي وصف ہے ـــــ یہ شے یا لفظ کے استعمال سے اس کے مخفی معنی تک انسانی ذھن کی دسترس کو ممکن بناتی ہیں ـــ یہ مخفی تجربے کی سطح پر اس شے یا لفظ سے مربوط ھوتا ہے، تاھم اسکی کوئی معین صورت نہیں ھوتی۔"۴

ترجمه:

د علامـت نـه مـراد دا دے چې کلـه د يـو څيـز ذکـر وشـي نـو دا (علامت) ذهن د دغه څيز بنيادي تصور طرف ته بوځي کوم چې د دې څيـز بنيـادي وصـف دے .دا د يـو څيـز يـا يـو لفـظ پـه استعمال سره د هغې پټو معنو ته انساني ذهن رسوي۔ دا صرف د تجربې په بنياد د دغه څيز يا لفظ سره يوځائے وي او د دې څه واضح صورت نه وي۔

مطلب دا چې علامت يو اشاره ده چې په پړدو کښې پټه وي او ذهن د هغـه پړدو شـاته بوتلل غواړي۔ يعنې چې کوم لفظ د علامت په توګه استعمال شوے وي د هغې په شا د معنو، مفهومونو او اشارو يو سمندر پروت وي خو ځان ورته رسول غواړي۔

د علامت په حقله د پښتو ژبې ليکوال ښاغلے طاهر بخاري صېب په خپـل کتـاب تنقيـد او ادبـي مفـردات کښې وائي...

"ځني پوهان دا هم وائي چې د علامت د غېر يقيني کېدو نه مراد دا نه
دے چې ګني معنا او مفهوم ئې هم نه شي ټاکلے ۔ بلکې اصل خبره دا ده
چې علامت اکې يو (واحد) معنويت نه شي برداشت کولے او د دې مطلب

دا راوځي چې علامت هم د حسي ادراکاتو په طور يو حسي
درک دے۔
تر څه حده به دا خبره اومنو البته دا عرض به وکړو چې
علامت اصلاً په
صحي او حقيقي معنو کښې يو معين او متعين څيز، عمل
يا شخصيت
طرف ته په صحي طور باطني اشاره وي۔ يا به په اسانو
لفظونو کښې دا
اوايو چې "علامت يو حقيقي څيز ته مجازي پټه غوندې
اشاره وي" او زما
په خيال دغه د علامت يو داسې صفا او صحي تعريف دے
چې په
پوهه کښې هم راځي او وجدان به ئې هم قبلوي." ۵

د ښاغلي طاهر بخاري صېب پورتني اقتباس مې ځکه پوره په پوره رانقل کړو چې خبره ئې ښېخې نزدې کړې ده۔ يعنې مطلب ئې دا شو چې علامت به مجازي وي خو چې د کوم څيز د پاره علامت استعمال شوے وي هغه به حقيقي وي او دا مجازي څيز يا لفظ چې کوم حقيقي څيز بيانوي نو دا به ښکاره نه وي بلکې پټ به وي باريک به وي او ذهن به ورته په اسانه نه رسېږي ـ علامت اصل کښې د علم البيان د خاندان غړے دے چې د تشبيه، استعاره، کعنايه او مجاز مرسل سره ډېرې نزدې او ژورې اړيکې لري خو د معنوي وسعت په وجه د دې ټولو نه جدا ښکاري۔ د علامت د ټولو نه غټه خوبي دا ده چې علامت د اظهار ارفع شکل دے۔ کوم ځاې کښې چې د تشبيه، استعاره، کعنايه وغېره حدود ختمېږي هلته نه د علامت حدود شروع کېږي۔ علامت يوه جديده اصطلاح ده چې د معنوي وسعت د وجې پرې پوهېدل مشکل دي۔

په علامت پوهېدل او بيا ئې په خپله ليکنه کښې بيانول ځانله ګران کار دے خو په ناول کښې علامتي رنګ پېدا کول يا پکښې علامتونه استعمالول نور هم ګران دي، ځکه چې د ناول انداز بيانيه وي يعنې خبره پکښې نېغ په نېغه کېږي ـ په پښتو ادب کښې د علامت استعمال هسې هم د نشت برابر دے ځکه چې علامت لا په پوره ډول پښتو ادب نه دے خپل کړے او چې تر کومه حده ئې استعمال شوے دے هغه هم داسې دے چې د علامت

سود پرې نه کېږي، او نه پرې د نړۍ د نورو لیکوالانو سره اوګه په اوګه اودرېدل کېدے شي . بیا د ناول انداز خو هسې هم بیانیه وي یعنې خبره پکښې په ډاګه او نېغ په نېغه کیږي نو ځکه پښتو ناول کښې علامت د نشت برابر دے .

علامت اصل کښې په هغه صورت کښې په ښه ډول په استعمال کښې راځي چرته چې د ظلم او جبر انتها وي او د بیان په آزادۍ قدغنونه وي . لیکوال خپله مدعا نېغ په نېغه خپل اولس ته نه شي وړاندې کولے نو د علامت په ارته لمنه کښې ځان پټ کړي او په علامتي انداز کښې خپله مدعا اولس ته ورسوي . په دغه صورت کښې چې کوم علامت په وجود کښې راځي هغې ته مونږ "شعوري علامت" وایو . خو د علامت د استعمال یو صورت دا هم دے چې لیکوال د ځان نه خبر نه وي او علامت ئې استعمال کړے وي . دغې ته مونږ "لاشعوري علامت" وایو. د دې مثال داسې دے لکه چې ځنې مشرقي لیکوالان علامت مغربي اصطلاح نه ګڼي بلکې دا وائي چې د علامت شروع د مشرق نه شوې ده . په دغو لیکوالانو کښې د پښتو ژبې لیکوال ښاغلے طاهر بخاري هم شامل دے . د دې لیکوالانو په خیال په مغرب کښې د علامتي تحریک شروع کېدو نه ډېر وړاندې مشرقي لیکوالانو علامت استعمال کړے دے خو د توجو وړ خبره پکښې دا ده چې په مشرقي ژبو کښې چې د علامتي تحریک نه مخکښې کوم علامتونه پکارولے شوي دي هغه "لاشعوري علامتونه" دي یعنې لیکوال ته پته نشته او علامت ئې پکارولے دے .

پښتنو لیکوالانو او ادیبانو خو اول علامت په صحي توګه پېژندلے نه دے او چې کومو لږو ډېرو لیکوالانو پېژندلے دے نو هغوي هم ورله توجو نه ده ورکړې . په پښتو افسانه کښې علامت د نورو ټولو صنفونو نه زیات پکارولے شوے دے . چونکه افسانه لنډه قیصه وي، پلاټ ئې مختصر وي، ابهام له پکښې ډېره توجه ورکولے کیږي نو د علامت استعمال پکښې هم په بشپړه توګه کېږي، خو ناول د افسانې په شان لنډه تنګه موضوع نه لري . د ناول لمن ډېره فراخه وي . د وحدت زمان او وحدت مکان استعمال پکښې هم لوې فني کمال غواړي. انداز ئې بیانیه وي یعنې خبره پکښې نېغ په نېغه کېږي ځکه پکښې علامت بیانول یا استعمالول مشکل وي . هسې هم علامت د وحدت مکان او وحدت زمان تابع وي . چې زمان او مکان بدلیږي نو علامت خپله ځانګړتیاوي بائېلي . لکه د مثال په توګه "ګونګے" په مشرقي ژبو کښې د کم عقلتوب علامت دے . زمونږ په وطن کښې هم په دغو معنو کښې استعمالیږي خو چې د مکان د قید نه اوځي او مغرب ته لاړ شي نو هلته بیا د عقل او پوهې

علامت ګرځولے شوے دے . دغه شان که د نن نه سل کاله مخکښې یو علامت پکارولے شوے وي نو هغه به د زمانې د بدلون سره خپل معنوي وسعت بائيللے وي او په دې وخت کښې به یو عام لفظ وي. د دې ټولو خبرو نچوړ دا دے چې یو خو د علامت پکارول هسې هم ګران دي، بیا په ناول کښې خو نور هم ګران شي او چې خبره پښتو ناول ته راشي نو شعوري علامت خو بېخي ورک شي او غېر شعوري علامت پکښې دومره شته چې څه لیکل پرې کېدے شي.

د پښتو ناول شروع د "تتیجه عشق" نه کېږي، خو تتیجه عشق رومانوي ناول دے یعنې د میني قیصه ده او هغه هم د لیکوال راحت زاخیلي د وینا تر مخه د رشتیاؤ قیصه ده . بس چې څه ئې لیدلي دي یا څه ئې په مخه تېر شوي دي هغه ئې بیان کړي دي . ځکه پکښې علامتونه نشته. نه پکښې شعوري علامت شته او نه پکښې غېرشعوري علامت شته.

دغه حال د نورو ناولونو لکه پېغله، نوې چپې،زرکې سترګې، د اور لمبې، دسرو تعویز وغېره هم دے. د علامت بڅرکي چې مونږ ته په کوم ناول یا دکوم لیکوال په ناولونو کښې په نظر راځي هغه ډاکټر شېر زمان طائزے صېب دے. د ډاکټر شېر زمان طائزي ناول " ګل خان" د پښتو هغه اولنے ناول دے چې مونږ ورته که په پوره توګه علامتي ناول نه شو وئېلے نو په غېر شعوري توګه پکښې علامتونه استعمال شوي دي . د ښاغلي ډاکټر شېر زمان طائزي صېب نور ناولونه لکه امانت، غونډے او رحمان کورونه هم دغسې علامتي رنګ لري چې ورستو به ئې ذکر وشي. دلته د یوې خبرې وضاحت کول غواړم او هغه دا چې زمونږ موضوع په پښتو ناول کښې دعلامت سرخېل ټاکل دي خو دا کار بېخي ګران دے ځکه چې د علامت سرخېل هغه چاته وئېل پکار دي چې په شعوري توګه ئې علامت پکارولے وي . دلته قیصه بدله ده. دلته خو د یو لیکوال په ناولونو کښې غېر شعورې علامت راپېدا کول هم ګران دي. د ماټو خان ناول "چاودے ښیښه" د "ګل خان" نه مخکښې چاپ دے او په هغې کښې هم لږ ډېر علامتي رنګ شته، خاص کر د ناول نوم" چاودے ښیښه" علامتي تاثر ورکوي خو د ډاکټر شېر زمان طائزې صېب په ټولو ناولونو کښې علامتي رنګ شته او ځینې علامتونه پکښې شعوري هم ښکاري ځکه نو که مونږه ډاکټر شېر زمان طائزے په پښتو ناول کښې د علامت سرخېل یاد کړو نو بده به نه وي. دلته ئې د "ګل خان" ناول په علامتي رنګ لړه خبره کوم چې د ښاغلي ډاکټر شېرزمان طائزي علامتي هڅه ترې په ډاګه کېږي.

"ګل خان" د ډاکټر شېر زمان طائزي اولنے ناول دے چې په کال ۱۹۶۳ء کښې چاپ شوے دے .دا ناول خو هسې په مجموعي توګه اصلاحي ناول دے چې د پښتنو د ټولنيز ژوند خاميانې پکښې په ګوته شوي دي خو ولې په څه ځايونو کښې علامتي رنګ هم لري .په "ګل خان" ناول کښې تر ټولو لوې علامت د ګل خان کردار دے .که دا ناول په غور ولوستے شي نو لوستونکي ته دا احساس کېږي چې د ناول نوم "ګل خان" نه دے پکار ځکه چې ګل خان پکښې نه هيرو دے او نه ئې مرکزي کردار دے او نه پکښې بله کومه د اهميت وړ خبره شته.خو د ګل خان نوم خوښولو په شا هم دغه علامتي سوچ برېښي .په دې ناول کښې ګل خان د يو خان د ناظر په حېث ځرګند شوے دے او د پښتنو په معاشره کښې د خان ناظر د بدۍ علامت ګڼلے شي.د خان او زميندار تر مينځه د ناظر نه علاوه څه رابطه نه وي نو ناظر چې کومه خبره کوي هغه داسې وي لکه د خان خبره، ځکه ناظر د خان په شان خوئې کوي او په زميندارو خپله هره خبره په هر شکل مني .هغه که جائز وي که ناجائز .خو دلته ګل خان د بدۍ علامت نه دے بلکه د نېکۍ،خوشالۍ،سکون او مثبت سوچ علامت دے .د ګل خان کردار پکښې په داسې انداز ښودلے شوے دے چې د هرې بدۍ مخنيوے کوي او د بدۍ ځواب هم په نېکۍ ورکول غواړي .د ګل خان د نېک خوئي ثبوت دا دے چې په يو وخت کښې د ګل خان دښمن ملک نادر هم د ګل خان د ښهء سړيتوب قائل شي او ګل خان په دې الفاظو ياد کړي...

> "پرويزه بچے ! ګل خان تانه پيژندو.هغهء زبرګ وهء.هغهء په ژوند چاته آزار نه وؤ کړے.بې ګناه بې خطا ووژلے شو.او د هغهء مرګ د سوب جرړه زه ووم.زه ړوند کوڼ ووم.که ما د ګلاب مخه نيولے وے نو ولې به دومره خوارېدمه" ۶

د پورتنۍ حوالې نه د ګل خان کردار په ښهء ډول ځرګند ېږي .د خپل دښمن د پاره د "زبرګ" لفظ استعمالول د دې خبرې دلالت کوي چې ډاکټر شېر زمان طائزي صېب د ګل خان کردار په ډېر ښکلي،او علامتي انداز کښې وړاندې کړے دے .ګل خان د ګلاب په ډز مړ شوے وي خو ګلاب له د ګل خان د وژلو اجازت نادر خان ورکړے وي ځکه چې ګلاب د نادر خان سړے وي.بيا پکښې د ګلاب مرګ هم په داسې انداز کښې ښودلے شوے دے چې د ګل خان عظمت او ولي توب ترې جوتېږي.نادر ملک د ګلاب دمرګ په حقله او د ګل خان د بدل په حقله داسې بيان کوي ...

"بچیه! ته وګوره چې د هغهٔ د قبر منجور او پهردار یو بې زبانه
ځناور شو. د هغهٔ دمرګ بدل نه مرزا اخستې شو، نه ئې ځوي
ګل اعظم. د هغه د مرګ بدل خدائې په خپله واخستو. ګلاب
ئې د ځنګل په میلو مات کړو او د لالې ګوجر پښه کمر نه وښوئېده.
بچیه! زما حال ته په خپله ګورې، زه بیمار یم ... او مرم. خو ستا
ملګري زما مرض نه شي معلومولې." ۷

ډاکټر شېر زمان طائزي صېب د ګل خان کردار په داسې انداز کښې وړاندې کړې دې چې د شخصي تاثر په ځاې اجتماعي تاثر وړاندې کوي. د ګل خان د مرګ نه پس د هغه سپې د هغه دقبر په خوا کښې لکه د منجور کیناستل هم یو ښکلې علامتي انداز دې چې غرض ئې د ګل خان خوب سیرتې او زبرګوالې ثابتول دي او دا خبره په ډاګه کول دي چې د نېک خوي څښتن او نیک عمله انسان خپل اثر نه صرف په انسانانو جوړوي بلکې د داسې ښکلي اثر په دائره کښې ځناور هم راځي. د دې نه علاوه پکښې نور علامتونه هم استعمال شوي دي لکه د مثال په توګه...

"او دا سور لنډې په کوم انداز ناست دې! ته ګوره چې کوم
خوا ته دا ګوري هلته به زرکه یا چرګه وي. هو شته... زرکه ده.
آه... ګیډر پرې ورټوپ کړو... خُله کښې ئې زرکه واخسته... ګوره
څنګه ئې سر اوچت کړو. اخوا دېخوا ئې وکتل. لکه مېدان ئې
وهلې وي... روان شو. هلکه دې خو داسې د غرور تګ کوي لکه
بر شوې جرنېل چې ګټلې مېدان کښې ګرځي." ۸

خبره ئې څومره په ښکلي او علامتي انداز کښې کړې ده. د علامت په حقله چې په اول سر کښې کومې خبرې مونږه کړې دي په هغې کښې دا هم وئېلې شوي وو چې د علامت به یوه معنا نه وي بلکې معنوي وسعت به لري. پورتنۍ حواله کښې چې کوم علامت استعمال شوې دې هغه هم معنوي وسعت لري. دلته "سورلنډې" د هغه سرکاري نوکر د پاره د علامت په توګه استعمال شوې دې کوم چې د حکومت نه د عوامو د تحفظ په سر پېسې اخلي خو د تحفظ په ځاې د دغو عوامو وینې څښي. او بیا په خپل دغه عمل باندې فخر هم کوي حالانکې په دغه وخت کښې دغه سرکاري افسر د انسانیت د درجې نه هم غورځېدلې وي. دغه نوکر ته خو ځان زمرې زمرې ښکاري خو په اصل کښې هغه ګیډر وي کوم چې د بې حسۍ، حرام خورۍ او بې غېرتوب د پاره د علامت په توګه استعمال شوې دې. دغه شان

"زرکه" هم په خوئي حصلت کښې نېکه او په زړهء سپينه وي لکه د عام اولس او غريبانانو . ځکه خو د خپل هم جنس ورور د ناڅاپي حملې نه ځان نه شي بچ کولے.

" امانت "د ښاغلي ډاکټر شېر زمان طائزي بل ناول دے چې په کال 1971ء کښې چاپ شوے دے. دا ناول هم د شېر زمان طائزي صيب د نورو ناولونو په شان د پښتني ثقافت او کلتور بنيادي خدوخال بيانوي چې د ليکوال په خپله معاشره د ژور نظر او پښتون سوچ عکاسي ترې کېږي. په دې ناول کښې ښاغلي طائزي صيب د يو رياست چې "سېل آباد" نومېږي ذکر کړے دے. سېل آباد هم پکښې علامتې رنګ لري . په دې ناول کښې ښاغلے ډاکټر شېرزمان طائزے د يو کردار په شکل کښې موجود دےچې د سېل اباد د چکر په غرض دغې رياست ته تللے وي او د دغې رياست متعلق د ستر ګو ليدلو حال په کتابي شکل کښې بيانول غواړي. په دې ناول کښې هم ځاے په ځائے علامت پکارولے شوے دے او يا پکښې علامتي انداز خپل کړے شوے دے .لکه د مثال په توګه ترې دا لاندينے اقتباس وړاندې کوم چې علامتي رنګ لري...

"ګلابيه، ګورې زر کوه وخت کېدو والا دے، زماد کټ سر ته ناست نوکر داسې په هيبت اودنګل چې مېز ئې هم وديکلو او څه ښوروا او يو هډوکے دوه کاسې نه اوغورزېدل. چېنک او پيالۍ هم خداې خبر کوم ګوټ ته رسېدلے دے. ځما لاس لاټېن ته اورسېدو چې هغه دې نه بچ پاتې شو. دې هر څه ته فکر نه مخکښې د ګلاب د خلې نه دومره وتې وو " ولې نن د جمعې شپه ده"." ۹

په پورتنې بيان باندې د خبرې کولو نه مخکښې ئې لږ وضاحت کول ضروري ګڼم . د ناول ليکونکي په يو هوټل کښې ځانله کمره په کرايه نيولي وي. په دغه هوټل کښې يو نوکر وي چې ګلاب نومېږي. د دغې علاقې نه لرې په يوغر کښې د هرې جمعې په شپه ډيوه بلېږي .د علاقې خلکو دا سوچ وي چې دا يو ښځه ده او شهيده کړې شوې ده، ټول ورته شهيده بي بې وائي. دا شهيده بي بې د هرې جمعې په شپه د عبادت په غرض د خپل قبر نه راوځي او د ډيوې په رڼا کښې خپل عبادت کوي. دلته کښې ګلاب د هر هغه انسان او په خاصه توګه د هر هغه پښتون د پاره علامت دے کوم چې نه صرف خپل ژوند په ويره،ترخه،مفرضو او وسوسو تېروي بلکې د نورو خلکو په ذهنونو کښې هم دغه تياره خورول غواړي يا ئې د خورېدو سبب

جوړېږي . دداسې قسمه خلقو په خيال داسې کارونه ټول د جمعې په شپه کېږي، ځکه نو ليکوال د ګلاب په خله دا خبره کوي چې " ولې نن دجمعې شپه ده څه ؟".

"رحمان کورنه " د ښاغلي شبر زمان طائزي صېب بل ناول دے چې په کال ۱۹۷۴ء کښې چاپ شوے دے . دا ناول په بنيادي توګه جاسوسي ناول دے چې د نورو ناولو په شان پکښې د پښتنې ټولنې خرابۍ په ګوته شوي دي . دا ناول لکه د ګل خان او امانت پورا علامتي رنګ نه لري خو يو ځاې نيم پکښې تجسيمي علامت پکارولے شوے دے . اګر چې شعوري هڅه نه ده خو بيا ئې هم ذکر کول ضروري ګڼم.

د دې ناول لنډيز څه داسې دے چې زړهٔ ور او ځيګرور سکه ورونړه وي او لکه د ليکوال د نورو ناولونو د کردارونو په شان دلته هم يو په زړهٔ تور وي او بل سپين . يو ښه سړے وي اوبل باندې د بدۍ اثر جوت وي . زړهٔ ور پکښې د سنګر کلي خان وي چې ښهٔ سړے وي. د ځوئي نوم ئې بخت روان او د لورنامه ئې زرلخته وي. بل طرف ته ځيګرور خان د ځيګر کوټ خان دے چې بد سړے وي او ځوې ئې څرګند خان نومېږي چې د پلار نه سيوا وي . دا دواړه کلي د څرګند خان او ځيګرور خان د لالچ له وجې وران شي . دناول هيرو "بريالے" نومېږي چې د زړهٔ ور خان دې ډرائيور وي او لور ئې کالج ته بوځي راولي د څرګند خان د وجې چې زړهٔ ور خان مړ شي او ټول کلے ئې لوټې لوټې شي نو زرلخته او بريالے پکښې د ځيګرور خان له وېرې وتختي . او په اخر کښې چې کله بخت روان د بهر ملک نه راشي نو څرګند خان او ځيګرور خان ته سزا ملاؤ شي. بريالے او زرلخته واپس کلي ته راشي او بخت روان دغه دواړه کلي بيا اباد کړي. د علاقې سپين روبي خلق راوغواړي او داسې وينا ورته وکړي...

" اوس ستاسو د رابلنې مقصد درښائيم. هغه دا چې دې علاقې ته چې ځيګر کوټ او سنګر کلے پکښې شامل دي. مونږ يو نوم غوره کړے دے. دا نوم د پښتنو د لوې فکر وړې د امن او سلامتۍ توغچې او د لاره ورکو لار ښونکې په نوم دے. تاسو پېژنې دا څوک وو؟ ګڼو خلقو په يو آواز اووې . "رحمان بابا"۔ نو اوس زه ښاغلي رحمت الله خان جج صاحب ته خواست کوم چه دا پرده په خپل مبارک لاس پورته کړي " رحمت الله په ډېر احترام پاڅېدو

مزے ئې راښکو، حاضر خلق لکه په يو تار تړلي پاڅېدل او يو
آواز پورته شو " رحمان کورونه "
کردګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي.
ازغي مه کره په پښو کښې به دې خار شي.
مخامخ د قيمتي کاڼي يو ښکلې تخته باندې غټ " رحمان کورونه
"او ورلاندې دغه شعر ليکلې شوے وؤ" ۱۰

"رحمان کورنه" اصل کښې د امن او سلامتۍ، مينې او محبت او نېکۍ د پاره علامت استعمال شوے خو چونکې ليکوال ئې وضاحت کړے دے نو د علامت اصل روح ورسره خراب شوے دے. د علامت په باره کښې مونږ وئېلي وو چې د علامت معنا به واضحه نه وي بلکې مبهم والے به پکښې وي او معنوي وسعت به لري. دلته بې شکه چې رحمان کورونه علامت دے خو ډېر کمزورے علامت دے.

"غونډے" د ښاغلي ډاکټر شېرزمان طائزي بل ناول دے چې په کال ۱۹۹۰ء کښې چاپ شوے دے. د دې ناول مرکزي کردار "غونډے" دے چې يو شپونکے وي. په دې ناول کښې هم ځينې علامتونه داسې دي چې شعوري هڅه ښکاري او د ښاغلي طائزي صېب د علامتي انداز دلالت کوي. لکه په دې ناول کښې "پېرے" ښاغلي ډاکټر شير زمان طائزې صېب په علامتي توګه استعمال کړے دے چې د ليکوال شعوري هڅه پکښې هم برېښي...

"پيري ورته لاسونه جوړه کړل ويئلې د ختکو سرداره دا سربېنے لږ
پوهه کړه دده سندرې د پښتون مزاج سره سمون نه خوري.
د توري او قلم څښتن ډېر اوخندل او بيا يې داسې درون او
ګړنګېدلي اواز کښې اووئيل چې غرونو ورسره اواز يو کړو ..
" اے د انسانيت ازلي دښمنه ځان پوئے کړه زه د ختکو نه د پښتنو
سردار يم ..او دا سربڼے نا ... د پښتنو پير دے... د پښتنو دښمنه
! خوشحال او رحمان يو دے خوشحال پښتنو ته د ساتنې او د غېرو
خلاف د يو وستون سبق ښائي او رحمان پښتون ته د امن او مينې
پېغام ورکوي. خوشحال بابا توره پورته کړه پيري نه لکه ساه اووته
خوشحال بابا او رحمان بابا يو بل ته کاته موسکي شو رحمان بابا
د رباب تار له يوه ګوته يوړه رباب نه يو ترنګ پورته شو او پېرے
لوګے شو" ۱۱

پورتنے بیان ټول علامتي د ے ـ د خوشحال بابا توره او د رحمان بابا رباب په کښې هم د علامت په توګه استعمال شوي دي ـ پېرے پکښې د بدۍ اود پښتنو د خپل مېنځي نفاق علامت د ے ـ پښتانه جنګ جګړه خوښوي او پېرے دا کوشش کوي چې پښتانه دې د وسلې سره مینه کوي او د قلم نه دې لرې اوسي ـ دلته کښې قلم هم د علم او پوهې د پاره د علامت په توګه استعمال شوې خو دا علاقائي یا د لیکوال ځانګړے علامت نه د ے بلکې عالمي علامت د ے چې د نړۍ په ټولو ژبو کښې پکارولے کېږي ـ د خوشحال بابا توره په کښې د مړانې او جاه وجلال علامت د ے، او د رحمان بابا رباب په کښې د امن او مینې علامت د ے ـ پېرے د تورې او رباب دواړو نه ویرېږي خو په اخیره کښې پېرے د رباب د ترنګ د لاسه فنا کېږي ـ دلته کښې ډاکټر شېرزمان طائزے صېب په علامتي انداز کښې دا وئیل غواړي چې پښتنو ته د رباب منګي یعنې موسیقۍ، امن او مینې ضرورت د ے ـ د رحمان بابا د مینې او محبت نه ډکو سندرو ضرورت د ے چې د پښتنو د مېنځ نه د نفاق او بدامنۍ پېرے لرې شي او پښتانه د ترقۍ په لاره روان شي ځکه ېې په کښې پېرے خوشحال خان بابا ته په دې سوال کولو مجبوره ښودلے چې سړښے یعنې رحمان بابا پوهه کړه چې د امن مینې او محبت دا سندرې نه وائي ـ د ښاغلي شېرزمان طائزي په ناولونو کښې نور علامتونه هم په نظر راځي خو دلته ترې د نمونې په توګه یو څو علامتونه وړاندې کړې شول ـ

زما په خیال که مونږ د ښاغلي ډاکټر شېرزمان طائزي نور ټول علامتونه کوم چې هغه په خپلو ناولونو کښې استعمال کړي دي یو خواته کړو او صرف د "پیري" دا علامت ئې راواخلو نو بیا هم داسې علامت استعمالول او په داسې انداز کښې استعمالول د ښاغلي لیکوال د لوړې علامتي پوهې دلالت کوي او ډاکټر شېرزمان طائزے په پښتو ادب کښې د علامت نګارانو په اولنې صف کښې ودروي ـ پښتو ناولونو کښې "پېرے" د علامت په توګه استعمالول د ډاکټر شیرزمان طائزي د شعوري علامت پکارولو وړومبنۍ هڅه ده ځکه په پښتو ناول کښې د علامت د سرخېل شمله د ډاکټر شېرزمان طائزي صېب په سر ده ـ

# References:

1: Firoz udin, molvi, Firoz ul lughat, Firoz and sons limtid, sixth edition, 2015, p 871
2: Kheyal Bukhari, Pashto Academy lughat, 2018, makh 1219
3: The New Encyclopedia of Britannica, London,15th edition, vol 17, 1973-74, P 900
4: Wazir Agha, Doctor, Urdu shairy ka Mizaj, jaded nashreen Lahore, 1995, p 407-408
5: Bukhari syed, Tahir, Tanqeed ao adabi mofridat, Mosa and brothers printers, 2014, p 281
6: Taizi,Sher Zaman Doctor, Gul Khan, Araaf printers mahla jangi pekhawar, janury 2021 doiem chap, makh 206
7: Hum dagha asar, makh 307
8: Hum dagha asar, makh 81
9: Taizi,Sher Zaman Doctor, Amaant, Hamedia press pekhawar, 1971, Makh 10-11
10: Taizi,Sher Zaman Doctor,Rahman korona, Ashraf news agency Pabi, zelah Nokhar, 1974, Makh 175
11: Taizi,Sher Zaman Doctor, Ghundai, kamil pokhto adabi jarga pabo seema zelah Nokhar, 1990, Makh 20-21